مسئوليت متن و شکل بدوش نويسندهٔ مضمون ميباشد، عقيدهٔ نويسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاين نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آريا ۲۰۲۲/۰۱/۱۷

د افغانستان سياسی او تأريخی ژورنال

دويم ټوک

شپږ شپېتمه برخه

فراه

او

د افغانستان سويلي برخې

تصحيحات

ډاکټر لوډويک . ډبيلو . ادمک

AKADEMISCHE DRUCK –u VERLAGSANSTALT

GRAZ –AUSTRIA
1973
لودويک آدمک

خواجه عطاء: ۲۶ ــ ۳۱ ، ۴۵ ــ ۶۲: دا يوه يوګړي يا منفرده غرنۍ لړۍ ده چې دري غرنۍ څوکې ئې جوړې کړي دي، په دغو دريواړو څوکو کې لويديځواله ئې تر نورو لوړه ده. ويل سوي چې په دغې څوکې کې يو زيارت هم سته.

دا غرنۍ لړۍ له خاش څخه د سويل لويديځ لور ته د لږ کوږوالي په لرلو لس مايله ليرې ده او د چهار برجک له چم ګاوندې سيمو څخه چې آسمان کې وريځې نـهٔ وي د ليدلو وړ ده. له خاش څخه تر شند پورې سړک ددې لنډې غرنۍ د لړۍ له لويديځې وروستنۍ ډډې څخه تيريږي. (ايس. ايم. تيی. له بومي معلوماتو څخه ۱۹۰۴)

خواجه عظيم: وګورئ: نادعلي

خواجه داد: ۲۱ ــ ۳۲، ۴۹ ــ ۶۴: د موسی کلا په علاقه دارۍ کې يو کلی دی، په همدغـهٔ نامـهٔ کلي څخه سويل ته څو مايله وړاندې ويل کېږي چې د عليزيو ۲۰۰ کورنۍ استوګنې دي. (صاحبداد خان) *دا کلی د شاهبان*[1] *د شمال په ۱۰ مايلی کې دی.*

خواجه غريب: ــ ۳۲، ــ ۶۴: په زمينداور کې يو کلی دی او ويل سوي چې د عليزيو ۳۰ کورنۍ په کې استوګنې دي. (صاحبداد خان)

[1] - Shahban. : شاه بن هم لوستل کېدای سي. - ژ

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

خواجه خان: ۹ – ۳۲، ۲۴ – ۶۴: په زمینداور کې یو کلی دی، که د سورکت د کلا د غونډۍ له پاسه ورته وګورئ نو شمال لور ته غرونو ته نېږدې له ورایه ښکاري. (میتلند) دا کلی د نوزادو د سویل لویدیځ په ۱۸ مایلۍ کې واقع دی. دلته په همدغهٔ نامهٔ دوه غرونه هم سته: خواجه خان بابا په ۱۲ – ۳۲، ۲۶ – ۶۴ کې او خواجه الفت بابا په ۸ – ۳۲، ۱۰ – ۶۴ کې.

* **خواجه پاکسا**: ۲۰ – ۳۲، ۵۵ – ۶۴: د موسی کلا د ختیځ په ۱۰ مایلۍ کې یو کلی دی. په دغهٔ نامهٔ بل کلی د زمینداور په سویل کې په ۸ – ۳۱، ۵۶ – ۶۱ کې موقعیت لري.

خواجه پاکسار: وګورئ خواجه پاکسا: ۲۰ – ۳۲، ۵۵ – ۶۴

خواجه رُباط: ۱۱ – ۳۱ ، ۵۴ – ۶۱: د ابراهیم کلا د شمال په ۳ مایلۍ کې یو زیارت دی چې په همدغهٔ نامهٔ دښتې کې واقع دی. دا دښته یوه تنګه لوړه سطحه ده چې پراتهٔ ئې شمال – ختیځ او سویل – لویدیځ خواوو ته ده. ددې دښتې ارتوالی له ختیځه تر لویدیځه له ۱۰۰ یاردو ډېر نهٔ دي، ددې دښتې له وروستۍ لویدیځې څنډې څخه د هابیل د مقبرې سیمې ته تللی سړک تېرېږي خو د شمال ختیځ لور ته پراخېږي. (میتلند) په همدغهٔ نامهٔ یو غر همدلته نېږدې ولاړ دی.

خواجه شاهي: – ۳۲، – ۶۴: په زمینداور کې یو کلی دی او ویل سوي چې د علیزیو ۸۰ کورونه په کې میشت دي. (صاحبداد خان)

خواجه سیاه پوش: ۳۱ – (۲۵ – ۲۲)، (۲ – ۲۶) – ۶۲: د چخانسور په شمال کې یوه دښته ده، چې ددې دښتې او د «دشتِ لار» تر منځ «رودِ خار»، خاشرودِ ته ورځي. د خواجه سیاه پوش د زاړهٔ کلي ورانې ویجاړې د دشتِ سیاه پوش شمال ته څومایله وړاندې په دښتې کې پرتې دي. دا پاتې شونې ځکه د پام وړ دي چې په دوی کې له ختو جوړ یو برج دی چې باندنی مخ ئې په پخو خښتو پوښلی دی چې د ساده مخبېلګو یا طرحو ډلې له ځانه څرګندوي. په ۱۸۷۲ز کال دا برج لا هم تر ۴۰ فیټو لوړ پاتې وو او دننه ئې مارپیچه پوړۍ یا زینې درلودلې. (پیکاک لووت) *په همدغهٔ نامهٔ یو کوټل هم سته چې د چخانسور د شمال په ۱۸ مایلۍ کې په ۲۵ – ۳۱ ، ۲ – ۶۲ کې واقع دی.*

خواجه سلطان: ۳۷ – ۳۰ ، ۵۷ – ۶۳: د هلمند د سیند پر کیڼې غاړې په ګرمسیل «ګرمسیل – ژ» کې د پراخو ورانو ویجاړو پاتې شونې دي او په منځ کې ئې یوه دنګه کلا ولاړه ده او دومره لویه ده چې د بُست تر کلا لا لویه ده. (بیلو) *دا سیمه د ګل آباد د شمال ختیځ په ۱۹ مایلۍ کې واقع ده.*

خواجه الفت: – ۳۲ ،– ۶۴: د نوزادو د ولسوالۍ په شمال کې یو کلی دی او ویل سوي د نورزیو ۵۸ کورنۍ په کې استوګنې دي. (صاحبداد خان)

کـِنجـَک: ۳۰ – ۳۲ ، ۳۰ – ۶۴: دا په نوزادو کې دوه کلي دي او په همدغهٔ نامهٔ د کلي شمال کې واقع دي. ویل سوي چې دواړو کلیو کې ۹۰ کورنۍ ژوند کوي (صاحبداد خان) *پورتنی یا کنجک علیا د نوزادو د شمال په ۸ مایلۍ کې واقع دی.*

کـِنجـَک سفلی: ۲۸ – ۳۲ ، ۳۰ – ۶۴: دا په موسی کلا کې دوه کلي دي چې د علیزیو ۱۸۰ کورنۍ په کې ژوند کوي. (صاحبداد خان)

کیري: کی رای: دا د بلوڅانو د ممساني قوم یوه څانګه ده. (تییت ۱۹۰۴) وګورئ: ممساني

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کرتاکه: ۵۴ ــ ۳۰ ، ۵ ــ ۶۴: دا په گرمسیل کې د هلمند د سیند پر ښی غاړه باندې دوه کلي دي. ویل سوي چې دواړو کلیو کې د بارکزیو ۳۰۰ کورنۍ استوګنې دي (صاحبداد خان)

کوه گاه: ۲۹ ــ ۳۱ ، ۲۸ ــ ۶۱: د لاش جوین په ولسوالۍ کې د پوپلزیو د ۱۰ کورنیو یو کلی دی. (ایس. ایم. ونلیس. ۱۹۰۳). *دا کلی د علي آباد د شمال لویدیځ په ۲ مایلۍ کې او د قوچ د سویل په ۱ مایلۍ واقع دی.*

کوه: په دري ــ فارسي کې د غرونو او ځایونو نومونه چې په کوه پیل کېږي نو د دري یو اضافت یا کسر ئې په پای کې راځي چې د ورپسې نوم ځانګړتیاوې ورباندې څرګندې کړي.

* **کوهٔ سرخک**: ۲۰ ــ ۳۲ ، ۵ ــ ۶۴: دا یو غر دی چې په نوزادو کې د فولاد د سویل په ۳ مایلۍ کې واقع دی.

کوهٔ کاشف: ۱۳ ــ ۳۲ ، ۵۹ ــ ۶۱: دا د فراه رودِ پر ښی غاړه یو کلی او د یوهٔ کلا نوم دی او ویل سوي چې د فراه د شمال لویدیځ په شل مایلۍ کې د «نو دِه» په مقابل لوري کې واقع دی. استوګن وګړي ئې بارکزیان دي. دلته ډېره پریمانه کرهنه سوې ده چې پریمانه باغچې او د میوو ښونه لري او له سینده خړوبېږي. اوښ څر ځایونه ئې ښهٔ دي ډېر لږ لرګي لري. (میتلند له بومي معلوماتو څخه) *دا کلی په اوسنیو نقشو کې د کـک شیب په نامهٔ لیکل سوی دی.*

کهنه قلعه: وګورئ: کرباسک: ۹ ــ ۳۰ ، ۳۹ ــ ۶۲

کوکه چـِل: ۴ ــ ۳۲ ، ۴۷ ــ ۶۴: په زمینداور کې یو کلی دی او ویل سوي چې د علیزیو ۴۰ کورونه په کې استوګن دي (صاحبداد خان). *دا کلی په اوسنیو نقشو کې د کاریز کوکه په ډول لیکل سوی دی.*

کول ماروت: قول ماروت - ژ: ۳۰ ــ ۳۱، ۲۹ ــ ۶۱: دا د څو بیلابیلو ورانو ویجاړو پاتې شونو له ډلو څخه یوه ډله ده چې ټول ئې په ګډه د پشاوران په نامهٔ یادېږي.

ویل سوي چې دلته یوه ډبرینه کتیبه موندل سوې چې پر مخ ئې داسې لیکل سوي دي: (کول ماروت ته ښهٔ راغلاست، چې د ډېر لوړ سړک او کوتل پر سر واقع دی. ددې ځای اوبهٔ د زم زمو «په مکه کې د نامتو څاه نوم» دي او خاوره ئې د سرو زرو ده. که غواړئ چې د کعبې له ښکلا څخه خوند واخلئ نو د کول ماروت جومات ته د ورځې په سپیده دم کې لاړ سئ. کینِ لاس ته د سرو زرو ۷ خـُمونه یا مرتبانونه دي).

د کول ماروت جومات یوه لویه ودانۍ ده چې په ظاهري بڼې کې ئې لا تر اوسه د ننوتنګ ددروازې د پلاستر نښې په روښانه ډول پاتې دي. ډیزاین ئې په عربي سبک دی او په لرغوني کوفي تورو قرآني آیات ورباندې لیکل سوي دي. د جومات متصل یو شمـېـر څلورګوټي یا څلور کونجه ودانۍ دي او ویل سوي چې دا د مدرسې پاتې شوني دي. د خانقاه نښې په آسانۍ سره لیدلای سو او په منحني ډولو کوټو کې په یوه کې ئې په دیوالي طاقچې کې د پلاستر پر مخ په ماسونیک ډیزاین سره متقاطع مثلثونه او ستوري ښکاري. (بیلو)

کشک: وګورئ: کشک

کوتل: ۵۸ ــ ۳۲ ، ۵۸ ــ ۶۴: په زمینداور کې دوه کلي دي او ویل سوي چې په دواړو کلي کې د علیزیو جمعاً ۳۵ کورونه سته. (صاحبداد خان). *یو کلی د سرخ کوتل په نامهٔ د بشلنګ د شمال ختیځ په لس مایلۍ کې دی.*

* **کوتل مزاري**: وګورئ: کشته ګان غر: ۲۵ ــ ۲۹ ، ۹ ــ ۶۴

کوچ: وګورئ: غوچ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کوچن: ۳۴ – ۲۹ ، ۵۴ – ۶۳: د گرگروک – مامو پر سړک یوه مرحله ده چې ډېرې ناکافي اوبـۀ لري. همدا شان په همدغه نامـۀ گرمسیل کې د کاریز صالحان د شمال ختیځ په ۳۰ مایلی کې یو سیند هم سته.

کـُهک: وگورئ: سیستان بند

* **کوه خان**: وگورئ: خاشرود

کوکِ بالا: ۱۷ – ۳۲، ۲ – ۶۱: د فراه رود پر ښی غاړه له فراه څخه ۱۳ مایله کښته یو کلی دی. دا کلی ۹۰ کورونه لري چې وگړي ئـې بارکزي او فارسیوانان دي.

د کلي ملک محمد عظیم خان په قوم بارکزی دی. دلته په کلي کې بنونه سته او د رود پرغاړو اوښ څر او سون لرگي تر لاسه کـېـدای سي.

کوکِ شب: ۱۳ – ۳۲ ، ۵۹ – ۶۱: دا کلی د کوکِ بالا له سینده څو مایله کښته واقع دی چې د باکرزیو، علیزیو او فارسیوانانو ۱۰۰ کورونه په کې میشت دي. د کلی ملک ئـې په قوم بارکزی غلام خان نومـېږي. دلته غلات کرل کـېږي او څو بنونه هم لري. (ایس. ایم. بومي معلومات. ۱۹۰۴)

کوکرو: ۱۱- ۳۰ ، ۱۴ – ۶۲: د هلمند پر سیند یو گودر دی چې قلعـۀ مادر پادشاه ته نـېږدې له رودباره ۱۵ مایله کښته واقع دی. ویل سوي چې دا ډېـر ښـۀ گودر دی په ندرت سره په اکتوبر کې تر ملا پورې اوبـۀ لري او دلته د سیند بستر هم ډېر ښـۀ دی. ویل سوي چې دا دائـمي گودر دی چې د هلمند په نورو ځایونو کې داسې بل گودر نـۀ سته. (میتلند)

کوملدان: وگورئ: داد خدا

کندل: وگورئ: خاشرود

کندل: وگورئ: قلعـۀ کنگ

کـُنجوی: ۳۰ – ۳۲ ، ۵۰ – ۶۴: د زمینداور په علاقه داري باغني کې یو کلی دی چې د خالوزیو ۱۱۰ کورونه په کې میشت دي. (صاحبداد خان)

کورا گز: وگورئ: خوابگاه

کـُرهي مادلي: ۴۰ – ۳۱ ، ۳ – ۶۴: د کندهار د لویدیځ په ۱۰۴ مایلی کې خاش ته د تللي سړک پر غاړه یو کلی دی. (تورنتون)

کـُـرکي: (۱۸ – ۱۶) – ۳۱، (۴۷ – ۴۵) – ۶۱: *یوه علاقه داري او یو کلی دی چې پر ایراني سرحد د کنگ شمال ته واقع ده.*

کـُـرکي تگرِش: ۲۸ – ۳۱ ، ۱۹ – ۶۳: د کندهار له لویدیځه ۱۵۰ مایله لیرې خاش ته د تللي سړک پر غاړه یو کلی دی. (تورنتون). اوسنی نقشې د کرکي پشتي په نامـۀ یو ځای ښیي چې د سیستان ځاه ئـې د شمال لویدیځ په ۲۷ مایلی کې ده.

کوش (کـُش) آباد: یا: جای درق: ۳۶ – ۳۱، ۲۹ – ۶۱: فراه رود ته نیږدې د سیند له ښی غاړې څخه څو مایله لیرې له دومبولي څخه پورته یو کلی دی. دا کلی په یوې تنگې درې کې په دشت کې واقع دی. ددې کلي د سویل په څو مایلی کې د یوې کوچنی کلا پاتې شوني دي او د کلا لږ ختیځ خوا ته یو مسجد دی او د مسجد د ورانیو په منځ کې یو زیارت دی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دلته ښه خاوره ده او سیمه په لرغوني کانال خړوبېږي. ۴۰ پښتني او فارسیواني کورنۍ په کې ژوند کوي چې په ۴ غني پګو کې د کرنیزو چارو لپاره سمبال سوي دي او هره پګو کې ۶ خرواره تخم کرل کېږي. محمد خان (اسحاقزی) او ابراهیم کوهکن (فارسیوان) هر یو ئې دوه دوه پګوګاني نیولي دي (ایس. ایم. تییت ۱۹۰۴). *دا ځای اوس د جای درق په نامهٔ ثبت سوی دی. دغهٔ ځای ته نېږدې بل ځای د درق په نامهٔ یادېږي.*

کـُشک: ۱۹ ــ ۳۲ ، ۳۵ ــ ۶۴: په موسی کلا کې یو کلی دی چې د علیزیو ۷۰ کورنۍ په کې میشتې دي. (صاحبداد خان)

کـُشک: ۵۹ - ۳۲، ۱ ــ ۶۴: د نوزادو سویل ختیځ کې یو کلی دی او ویل سوي چې د پوپلزیو ۱۶۰ کورنۍ په کې استوګنې دي. (صاحبداد خان)

کـُشک: ۲ ــ ۳۳، ۲۵ ــ ۶۴: د پُشتِ رودِ په شمال کې یو سیند دی او د اوبو د بهیر سویل لویدیځ تګلوری لري او د زرني او بادام مزار تر منځ یو سړک ورڅخه تیریږي چې له سویل لوري له تیوري څخه راځي. داسې ښکاري چې دا دې د خاشرودِ د سر له اوبو بل څه نـهٔ وي له دې کبله شرحه به ئـې د خاشرودِ تر عنوان لاندې راسي. (ای. بي. سي.) *یوه ویاله د شیلـهٔ کـُـجک په نامـهٔ په ۵۲ ــ ۲۹ ، ۶ ــ ۶۲ کې او د کـُشک په نامـهٔ کلی په ۵۹ ــ ۳۲، ۱ ــ ۶۴ کې واقع دی.*

کـُشک: ۳۶ ــ ۳۱ ، ۲۹ ــ ۶۱: د بلوڅانو یو کلی دی چې ۲۵ جونګړې لري او د نادعلي ــ لاش جوین د سړک پر کینې غاړې د سیخسر د سیند او اشکینک تر منځ واقع دی. (ایس. ایم. ونلیس. ۱۹۰۳). *اوسنۍ نقشې دا ځای د «کوشه» په نامه لیکي.*

کشک: وګورئ: سیخ سر: کـُشکِ سفید:

کشک: کوشک: ۴۳ ــ ۳۰ ، ۴۷ ــ ۶۱: د هلمند د سیند پر ښی غاړې باندې یو وران ویجاړ کلی دی چې د سیستان له بنده ځو مایله پورته واقع دی. دا نوم له قلعـهٔ فتح تر بند پورې د سیند د ښی غاړې ټولې عامې لارې ته ورکړل سوی دی. (وګورئ " سرخي") (پیکاک)

کشک سفید: ۱۸ ــ ۳۲، ۵۸ ــ ۶۳: ایکلنګ ته نیږدې یو کوچنی کلی دی. وګړي ئـې نورزیان دي (امیر خان. شهزاده تیموس)

* **کشک سفید**: وګورئ: کشک سفید

* **کـُشتي**: وګورئ: کـَـشتي: ۵۶ ــ ۳۰ ، ۱۰ ــ ۶۴

* **کشتګان غر**: ۲۵ ــ ۲۹ ، ۷ ــ ۶۴: د هلمند ولایت په سویل کې یو غر دی چې له بلوڅستان سره د پولې یوه برخه جوړوي. د کوتلِ مزاري په نامـهٔ یو کوتل دی چې د غرهٔ په ها بله خوا کې بلوڅستان ته لاره لري.

لفتان: ۴۱ ــ ۳۱ ، ۳۶ ــ ۶۱: د لاش جوین د سیند له ښی غاړې څخه څلور مایله کښته یو کلی دی.

دې کلي کې ۱۰۰ کورنۍ استوګنې دي او ۱۱ غني پګو ځمکه لري. دلته یو کاریز هم سته او د اوبو سرچینه ئـې د سیند په بستر کې له کیندل سویو څاه ګانو څخه دي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د دې کلي ځمکوال دا دي:

محمد عظیم خان اسحاقزی (د محمد حسن خان زوی)	۲ پګو ګانې
عبدالله خان (د عظیم خان زوی)	۲ پګوګانې
قمرالدین خان	۲ پګوګانې
محمد صدیق (فارسیوان)	۲ پګوګانې
خان محمد	یوه پګو
جان محمد	یوه پګو
نور محمد اسحاقزی	یوه پګو

هره پګو ۱۰۰ خرواره غلات حاصل لري او دا کلی ۵۰۰ پسونه او وزې او ۱۰۰ غوایان لري.

دلته د یوې څلور څنډیزې یا مربع ډوله کلا پاتې شونې سته چې په هر ګوټ کې ئې برجونه ئې درلودل او دیوالونه ئې لا تر اوسه ولاړ دي. (ایس. ایم. تییت. ۱۹۰۳)

لاجور کاریز: لاجورد کاریز – ژ: ۳۲ – ۳۲، ۱ – ۶۳: د واشیر – دولت آباد د سړک په اوږدو کې د دمې نیولو یو ځای دی، دا ځای له واشیر څخه ۵۰ نیم مایله لیرې دی. دلته څو کورونه هم سته. د کاریز ښې ډېرې اوبـۀ او ښـۀ پریمانه مالګر ځای لري. خوشه یې جوار (وښکی لرونکي جوار) (عربي او انګلیسي کې ئې سورغم بولي) پریمانه دي خو وابښـۀ ئې ډېر لږ دي. ددې سیمې په چم ګاونډ کې کلي هم سته خو په دوبي کې ددې کلیو خلک له خپلو مینو څخه بل ځای ته کډه کېږي. (کانولي، سندرز)

نور بیا

لـــکـــړې:

یادونه: قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک ټولی او دوېم ټوک ټولي برخي لوستی شی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ